ورځپاڼه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۶مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۷مه | دویم کال | ۳۰۱مه ګڼه


## هیواد
۴ مخ

### استرالیا
استرالیا د طبیعي زېرمو له پلوه د نړۍ له بډایو هېوادونو څخه شمېرل کېږي. کرنیز محصولات، کاني توکي، فلزات او اومه نفت د دغه هېواد غټ صادراتي توکي دي.



د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې؛
# امریکايي او طالب استازي به نن په پاکستان کې پر اوربند او بندیانو خبرې وکړي







۳

حکومت له چا سره په جګړه کې دی؟
۲ مخ

امریکا به رښتیا هم افغانستان پرېږدي؟
۲ مخ

کابل، بیجېنګ او اسلام اباد؛ پر اقتصادي محور څرخېدونکی مثلث!
۳ مخ

## جنوبي کوریا له وچکالۍ ځپلو سره ۲،۲ میلیونه ډالره مرسته کړې



جنوبي کوریا په افغانستان کې د وچکالۍ له کبله د زیانمنو شویو ماشومانو د ملاتړ په موخه ۲،۲میلیونه ډالره مرسته کړې ده. د جنوبي کوریا سفارت او د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (یونیسف) ترمنځ له وچکالي ځپلو سره د مرستې دغه تړون په داسې حال کې لاسلیک کېږي چې دا مهال په ټول هېواد کې شاوخوا ۱،۶ میلیونه ماشومان له وچکالۍ اغېزمن دي.

په کابل کې د جنوبي کوریا سفیرې، ري ژا هیونګ وویل، خواشینې ده چې په افغانستان کې ۸۳ زره کورنۍ د وچکالۍ له امله بېړنیو مرستو ته اړتیا لري. هغې زیاته کړه، دا مرستې په هرات، بادغیس او غور ولایتونو کې پر هغو ۲۱ زرو کورنیو وېشل کېږي چې د جنګونو او طبیعي پېښو له امله اغېزمنې شوې او ډېرۍ برخه یې ماشومان دي.

په دغو مرستو کې خوراکي توکي، د اړتیا وړ مواد لکه کمپلې، د کورنۍ د پخلنځي توکي، ترپالونه او د ماشومانو لپاره د ژمي کالي شامل دي.

## پاکستان پر ډیورنډ کرښه ۲۳۳ پوستې جوړې کړې

پر ډیورنډ کرښه د پاکستان له لوري د اغزن سیم غځولو کار له ډېر وخت راهیسې پیل شوی او اوس مخ په بشپړېدو دی، خو افغان حکومت تر اوسه په دې اړه هېڅ غبرګون نه دی ښودلی.

د پاکستان د پوځ ویاند اصف غفور ویلي، پر ډیورنډ کرښه د اغزن سیم غځولو ترڅنګ یې ۲۳۳ پوستې هم جوړې کړې چې پر کرښه به د ترهګرو د تګ راتګ مخنیوی وکړي.


غفور ویلي: «پر ډیورنډ کرښه د اغزن سیم غځولو کار په چټکۍ سره روان دی. تر دا مهاله په څه باندې ۲۰۸ کیلومتره ساحه سیم غځول شوی او دغه لړۍ به د راتلونکي کال تر پایه بشپړه شي. پر کرښه د ترهګرو د تګ راتګ د مخنیوي لپاره تازه ۲۳۳ پوستې هم جوړې شوې دي.»

خو د ولسي جرګې غړي د پاکستان د دغه کار پر وړاندې د افغان حکومت چوپتیا د پوښتنې وړ بولي او وايي چې پاکستان په دغه کار سره د افغانستان خاوره لاندې کوي، خو حکومت یې پر وړاندې غبرګون نه ښيي.

وکیلان وايي، د ډیورنډ کرښې موضوع د دې کرښې دواړو غاړو ته په پرتو ولسونو پورې اړه لري او هېڅوک حق نه لري چې د دې کرښې په تړاو پرېکړه وکړي.

د ډیورنډ پر کرښه د پاکستان له لوري د اغزن سیم غځولو پر وړاندې د حکومت چوپتیا داسې مهال ده چې ویل کېږي د افغانستان، پاکستان او چین ترمنځ په وروستۍ درې اړخیزه ناسته کې هم په دې اړه ځینې توافقات شوي، خو حکومت یې جزیات نه دي خپاره کړي.

## طالبان دې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې له موږ سره ودرېږي



۲ مخ

## بانک اطلاعاتی آنلاین در مورد قاچاق انسان در افغانستان گشایش یافت



وزیر عدلیهٔ افغانستان، ضمن گشایش بانک اطلاعاتی آنلاین در مورد قاچاق انسان در افغانستان، گفت که برخی نیروهای پولیس، با قربانیان قاچاق انسان برخورد درست نمی کنند.

عبدالبصیر انور وزیر عدلیهٔ و رئیس عمومی کمیسیون عالی مبارزه با قاچاق انسان و مهاجران در افغانستان، دیروز در مراسم گشایش صفحهٔ انترنتی بانک اطلاعاتی قاچاق انسان در کابل گفت که ایالات متحده امریکا، در قسمت این بانک اطلاعاتی کمک کرده است.

او افزود که تمام معلومات در مورد قاچاق انسان، در این صفحه می باشد که همگان می توانند از آن استفاده کنند.

انور بدون ارایه جزییات، قاچاق انسان را یک مشکل عمده در افغانستان خواند و بدون ارایه آمار گفت که در افغانستان، انواع قاچاق انسان وجود دارد.

به گفته او در برخی موارد، قربانیان قاچاق انسان از سوی نیروهای امنیتی به خصوص پولیس، مورد آزار و اذیت قرار گرفته اند.

اکرام الله قریشی مسؤل مدیریت معلوماتی سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) در این مراسم گفت که در بانک اطلاعاتی یادشده معلومات در مورد قربانیان، قاچاقیان انسان، کمیسیون ذیربط و غیره شامل شده و هر نهاد ذیربط، می تواند از آن به شکل آنلاین استفاده کند.

الیزابت چمبرز معاون ماموریت اداره انکشاف بین المللی ایالات متحدهٔ امریکا (USAID) گفت که ایجاد این بانک اطلاعاتی، یک قدم خوب برای کاهش واقعات قاچاق انسان در افغانستان می باشد.


if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دریـــځ

## حکومت له چا سره په جګړه کې دی؟

په دې وروستیو کې ګڼ ځواکونه نږدې هره ورځ او شپه پر عامو خلکو بریدونه کوي. په کونړ او هلمند کې د ملکي وګړو د وژنې کیسه لا ګرمه ده، حکومت بیا تازه په هلمند کې د عامو خلکو دوکانونه سوځولي دي. ورمه شپه ګډو ځواکونو د هلمند د ګرمسیر ولسوالۍ آمر اغا بازار نږدې ټول دوکانونه سوځولي دي. حکومتي سرچینې دا پېښه تاییدوي او وايي چې دوی ځکه دا کار وکړ چې په دغو دوکانونو کې د تریاکو پېر او پلور کېده او دوی یو مخ له منځه وړي دي.

لومړی خو د بازار په خپرو شوو تصویرونو کې ښکاري چې د حکومتي چارواکو ادعا دروغ ده، ځکه چې روښانه معلومېږي په دوکانونو کې نور شیان دي. دغه راز په ټولنیزو رسنیو کې د پېښې خپاره شوي تصویرونه او ویډیوګانې ښیي چې پر عام بازار برید شوی او دوکانونه سوځول شوي دي. دا سمه ده چې په دغه بازار کې به د تریاکو د پلور او پېر دوکانونه هم وو، خو له شک پرته چې دا عام بازار و او عام دوکانونه هم سوځول شوي دي. په هلمند کې تریاک عامه مسئله ده او په نوي سلنه هلمند کې چې حکومت پکې نشته، خلک تریاک کري او پلوري يې. اوس حکومت باید پر همدې نوي سلنه هلمند بمونه وغورځوي، دوکانونه او د خلکو کورونه وسوځوي!؟

په دې وروستیو کې د حکومت کړنې داسې دي چې له شک پرته له ولس سره دښمني ده او په دې سره وسله والو مخالفینو ته کمپاین روان دی. هره ورځ د ښځو، ماشومانو او نورو بې ګناه وګړو وژل له ولس سره له دښمنۍ پرته بله مانا نه لري. په دې سره خلک لازیات له حکومت څخه زړه توري کېږي، وسله والو مخالفینو ته پکې ځای پیدا کېږي، خلک اړ کېږي چې د غچ اخیستنې لپاره له وسله والو سره یو ځای شي. که حکومت رښتیا له ولس سره په جګړه کې نه وي او غواړي له وسله والو مخالفینو سره جګړه وکړي، نو بیا خو پکار ده چې ولس را خپل شي، ښه چلند ورسره وشي او مخالفین منزوي شي. اوس خو حکومت پر ولس بمونه غورځوي، خلک له دې امله وژني چې طالب يې کور ته ورغلی او یا یې هم د کور ترڅنګ تېر شوی دی. اوس ولس له دې امله وژل کېږي چې د طالب تر واکمنۍ لاندې ساحه کې ژوند کوي. په دې سره خو ولس لا زیات د مخالفینو خواخوږی کېږي او حکومت یې له سترګو لوېږي. له اوسنیو کړنو داسې ښکاري چې حکومت او امریکایي ملګري يې د وسله والو پر ځای له ولس سره په جګړه کې دي او هره ورځ ولس وژني.

حکومت ته پکار ده چې له خپله اړخه هم دا جګړه ودروي او د امریکایانو مخه هم ونیسي. له دې پرته به دا حکومت ورځ تر بلې کمزوری شي، لا زیاته ځمکه به یې له کنټروله ووځي او بیا به د ولس د را خپلولو او د حکومت د ټینګولو لپاره ډېر ناوخته شوی وي.

# امریکا به رښتیا هم افغانستان پرېږدي؟

لیکنه: جلال بازوان - بي بي سي پښتو

په ۲۰۰۱ ز کال کې پر افغانستان تر پوځي برید وروسته امریکا داسې پېچلي او نامالومه تګلاره غوره کړې چې له ډېرو پکې لاره ورکېږي. دوی له پیله درې بېلابېلې نظریې لري. یوه نظریه دا ده چې په افغانستان کې جګړه د امریکا د ملي امنیت لپاره د راتلونکو ننګونو او چلېنجونو څخه د خلاصون جګړه بلل کېږي.

د دویمې نظریې ملاتړي دا جګړه غندي او په افغانستان کې اوږدمهاله پاتې کېدل د امریکایي ولس د مالیې ضایع ګڼي.

درېیمه نظریه بیا د طالب اوریکو او افغان دولت ترمنځ د جوړجاړي خبرې اترې دي. همدغو دریو نظریو ذهني مغشوشوالی رامنځته کړی دی.

د افغانستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له ټاکل کېدو وروسته د سولې خبرې خورا ګرمې شوې چې په خواله رسنیو او د خلکو ترمنځ یې ګرم بحثونه رامنځته کړي دي.

په ورته وخت کې نړیوالې رسنۍ هم هره ورځ د ولسمشر ټرمپ په اړه غږېږي چې ګواکې له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو ایستل غواړي او نور نه غواړي چې په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد جګړه کې د امریکایي مالیه ورکوونکو روپۍ ضایع کړي.

دوی فکر کوي چې ولسمشر ټرمپ خپل ټول پام د امریکا د اقتصاد بیارغونې ته اړولی، نو ځکه غواړي چې نور امریکا د تاریخ تر ټولو اوږدې جګړې ته د پای ټکی کېږدي، خو ډېری خلک د مسئلې بل اړخ له پامه غورځوي.

په کابل کې له ځینو شنونکو او چارواکو سره دا اندېښنه ده چې هسې نه ولسمشر ټرمپ یو سهار له خوبه پاڅي او پر ټوېټر له افغانستانه د وتلو اعلان وکړي.

خو خبره د تېر په څېر بل ډول ده. د ولسمشر اوباما په اړه هم ورته فکر کېدو چې ګواکې په ۲۰۱۱ ز کال کې نور د افغانستان له جګړې ستړی شوی او په افغانستان کې د امریکایي جنرالانو خبره به نوره نه اوري.

هغه مهال به د امریکا ملکي مشرانو ویل، په افغانستان کې به یوازې د سفارت ساتنې لپاره کم شمېر ځواکونه پاتې کېږي، خو موږ ولیدل چې ولسمشر اوباما په افغانستان کې د پوځي شتون لپاره امنیتي تړون رامنځته کړ او پر افغان حکومت یې د لاسلیک کولو لپاره یوڅه فشار را وست.

د پاکستان مشهور لیکوال او خبریال نصرت جاوید په خپله لیکنه کې د امریکا د پخواني ولسمشر جورج بوش او هغه مهال د پاکستاني لومړي وزیر شوکت عزیز یوه محاوره رانقل کړې ده. ښاغلي عزیز له ولسمشر بوش نه پوښتنه کوي چې امریکا په افغانستان کې پاتې کېږي او که وځي؟

ولسمشر بوش شوکت عزیز ته په ځواب کې د امریکا د ملي امنیت سلاکارې کونډولیزه رایس څخه د یوې پوښتنې په ډول ځواب ورکوي: «اغلې کونډولیزه! ایا ویلی شې چې جاپان او سویلي کوریا ته امریکایي ځواکونه په کومو لسیزو کې تللي وو؟»

په افغانستان کې اوږدمهاله پوځي شتون د امریکا د لویې ستراتېژۍ او په اسیا کې د واک د موازنې تر ټولو مهم اړخ جوړوي.

د افغانستان او سیمې لپاره د ولسمشر ټرمپ د سویلي اسیا ستراتېژي په اصل کې په خپله ډېر څه وايي، خو له دې څخه تل سترګې اړول کېږي.

د دې ستراتېژۍ د اعلان په وخت کې د امریکا دفاع وزیر جېمز متېس په زغرده د چین د کمربند او سړک په اړه وویل چې دوی به د ټولو هغو پروژو مخه ونیسي چې له جنجالي سیمو څخه تېرېږي.

هغه د چین- پاکستان اقتصادي دهلېز ته په اشارې سره وویل چې دا ورته د منلو وړ نه ده چې په هغو سیمو کې دې چین پانګونه وکړي چې تر اوسه یې د سیمې هېوادونه پر سر جنجالونه لري.

همدارنګه په واشنګټن کې ځینې شنونکي او څېړنیز بنسټونه په دې اړه شننې کوي او وايي، چین د کمربند او سړک د پروژې په پلمه غواړي چې کمزوري هېوادونه د قرضې په جال کې راګیر کړي.

د دې ترڅنګ په ختیځه اسیا، مرکزي اسیا او سویلي اسیا کې روانو جیوپولیټیکل بدلونونو، امنیتي سیالیو او د امریکا او متحدینو پخواني مخالفین یو ځل بیا سر را پورته کوي چې د دغه وضعیت په رامنځته کېدو سره په واشنګټن کې ګرم بحثونه پیل شوي دي.

څه موده وړاندې د امریکا د سمندري ځواکونو قوماندان جنرال ډانفورډ وویل، نړۍ یو ځل بیا د امریکا او پخوانیو مخالفینو (چین-روس) ترمنځ د ازادې سیالۍ شاهده ده.

هغه همدارنګه د امریکا پوځي ستراتېژیو ته له سره د کتنې غوښتنه وکړه. د دې ترڅنګ په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو پخواني قوماندان جنرال مک کرېسټل هم د بهرنیو چارو له وزیر مایک پامپیو سره په یوه ملاقات کې مشوره وکړه چې له افغانستان څخه په بشپړه توګه وتل به ستره تېروتنه وي.

دلته مهمه پوښتنه دا ده چې که امریکا رښتیا هم په افغانستان کې د اوږدې مودې لپاره پاتې کېدل غواړي، نو په افغانستان کې به راتلونکی سیاسي او امنیتي وضعیت څه ډول وي؟

له طالبانو سره د افغان حکومت روانې خبرې دا مهال له یو لړ ستونزو سره مخ دي، ځکه چې په حکومت کې دننه او بهر ځینې لوړپوړي چارواکي وخت ناوخت د سولې په روانه پروسه نیوکې کوي.

ولسمشر غني له طالبانو سره د سولې د خبرو لپاره یو نوی ټیم جوړ کړی او د سولې عالي شورا برخلیک هم روښانه نه دی.

روسیې ته د سفر پر مهال د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد خبرې هم یو ډول مایوسه وې. هغه روسیې ته د سفر په مهال وویل، افغانان باید خپل برخلیک ټاکلو ته پرېښودل شي او نور هېوادونه باید په دغه هېواد کې له لاسوهنې لاس واخلي.

ښایي خلیلزاد د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ خبرو اترو کې بریالی شي، خو د پښتون ملتپال مشر افراسیاب خټک خبره په افغانستان او سیمه کې ترهګر ګروپونه هماغه پخواني دي او د وخت له غوښتنې سره یوازې د دوی په شعار او د بیرغ په رنګ کې بدلون راځي.

له بلې خوا د امریکا د سمندري ځواکونو قوماندان جنرل ډانفورډ په خبره، په افغانستان کې اوسمهال شل ترهګرې ډلې فعالیت کوي چې د امریکا ملي امنیت ته لوی خطر پېښوي.

په منځني ختیځ کې د داعش له ماتې وروسته اوسمهال د افغانستان په شمال کې د دوی فعالیتونه ورځ تربلې زیاتېږي، نو په دا ډول وضعیت کې طالبان که د کابل حکومت برخه هم شي، خو سوله به اوږدمهاله نه وي، ځکه چې جګړه به دا نورې ترهګرې ډلې تېلې پرمخ وړي.

له بلې خوا که څه هم د چین او امریکا سوداګریزه جګړه د موقت وخت لپاره درېدلې، خو په ټوله کې په مختلفو بڼو لا تراوسه دوام لري. امریکا په دې وروستیو کې کوښښ کوي چې په چینایي شرکتونو بندیز ولګوي.

د همدې هلو ځلو په پار چین د یو کمربند یو سړک په پروژو کار ګړندی کړی او غواړي چې له امریکایي انحصار څخه ځان وژغوري.

د اقتصادي دهلېزونو او امنیتي سیالیو څخه ور هاخوا د ایران اټومي مسئله هم امریکا ته ډېره مهمه ده.

تېرکال د چین ZTE شرکت جریمه شو. اوس هم د هواوي (Huawei) شرکت مالي امره مېنګ وانجو په کاناډا کې نیول شوې ده. دغو شرکتونو امریکایي چیپونه په ایران پلورلي وو.

دغه وضعیت ښیي چې د ایران مسئله د امریکا د لویې ستراتېژۍ په برخه کې څومره ستراتېژیک اهمیت لري.

له دې بحثه پایله دا ده چې امریکا نه یوازې په افغانستان، بلکې په ټوله سیمه کې اوږدمهاله ګټې، اندېښنې او پروژې لري او ګرانه ده چې د یوه ولسمشر د موډ یا خوښې پر اساس دې له دې سیمې پښې سپکې کړي.

## د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې؛

# امریکایي او طالب استازي به نن په پاکستان کې پر اوربند او بندیانو خبرې وکړي

پخوانی طالب چارواکی سید اکبر اغا وايي، په پاکستان کې د طالبانو د قطر دفتر استازو او د امریکا د ځانګړي استازي ترمنځ په ننني مخامخ خبرو کې به پر موقت اوربند، بندیانو، امریکایي اډو او له افغان دولت سره د مذاکراتو په تړاو خبرې وشي.

خو د سولې عالي شورا وايي، د طالب استازو او امریکایي چارواکو ترمنځ نننۍ ناسته له افغان حکومت سره د طالبانو د مخامخ مذاکراتو په موخه ترسره کېږي.

د دې شورا ویاند سید احسان طاهري وايي، هېڅ هېواد نه شي کولی چې د افغانانو په استازیتوب له وسله والو ډلو سره خبرې وکړي.

طاهري وايي: «موږ ته د افغانانو تر مشرۍ او مالکیت لاندې د مذاکراتو پیلېدل مهم دي، طالبان او امریکایان د عمران خان په غوښتنه



مجلس کوي، دغه مذاکرات د نورو مذاکراتو لپاره کېږي. بې له شکه مذاکرات به د افغانانو او طالبانو ترمنځ مخامخ کېږي او هېڅوک د دې صلاحیت نه لري چې د افغانستان د سولې په اړه مذاکرات وکړي.»

خو دغه پخوانی طالب چارواکی بیا په دې باور دی چې امریکا به په دغه ناسته کې هڅه وکړي، څو طالبان له افغان دولت سره د خبرو مېز ته تیار کړي او د روانې جګړې لپاره حللاره پیدا کړي.

نوموړی وايي، د طالب استازو او امریکایي چارواکو ترمنځ په دې ناسته کې به په افغانستان کې د موقت اوربند او د دواړو خواوو بندیانو په ګډون په ځینو مهمو مسئلو بحث وشي.

هغه زیاتوي: «اوله خبره د توافق خبره ده چې د خارجیانو په وتلو توافق وشي. دویم د زندانیانو د خلاصون خبره ده او درېیم د اوربند خبره ده. دغه درې واړه هغه خبرې دي چې د افغانستان مشکل خاموشه کوي.»

بلخوا د ولسي جرګې غړي وايي، که امریکا او پاکستان په رښتیني ډول د افغان سولې لپاره هڅې وکړي، شونې ده چې وسله وال طالبان له افغان حکومت سره د سولې مذاکرات پیل کړي.

د طالب استازو او امریکایي چارواکو ترمنځ دغه مذاکرات داسې مهال ترسره کېږي چې طالبانو له افغان حکومت سره د خبرو وړاندیز رد کړی او ټینګار کوي چې دوی یوازې له امریکایانو سره خبرې کوي.

# کابل، بیجینګ او اسلام اباد؛

## پر اقتصادي محور څرخېدونکی مثلث!

نعمت الله عزیزي

د شنبې ورځ د ډسمبر په ۱۵مه په کابل کې د افغانستان، چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو درې اړخیزه ناسته تر سره شوه. په دې ناسته کې پر سوله، امنیت او سیمه ییزو همکاریو باندې خبرې اترې وشوې.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني وویل، په افغانستان کې سوله په پاکستان او سیمه کې د سولې په معنا ده او پاکستان هم په دې قانع دی، خو اوس د دې وخت دی چې پاکستان د خپلې ارادې د ښودلو لپاره عمل وکړي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي بیا وویل، د دې لپاره چې پایلې ته ورسېږو، باید نظر ته مو بدلون ورکړو او د یو بل په تورنولو سره هېڅ ځای ته نه رسېږو او باید له یو بل سره په همغږۍ په افغانستان کې د سولې لپاره هڅه وکړو.

د چین د بهرنیو چارو وزیر «وانګ یي» هم څرګنده کړه چې درې واړه هېوادونه له ترهګرۍ سره د مبارزې لپاره ژمن دي او په افغانستان کې د سولې لپاره د افغانانو ارادې ته احترام لري او په دې برخه کې هر ډول مرستې ته چمتو دي، خو ترڅو چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ باور رامنځته نه شي، دا ډول ناستې بې پایلې دي.

د دې لړۍ لومړۍ ناسته تېر کال د ډسمبر په ۲۳مه د چین په پلازمېنه بیجېنګ ښار کې ترسره شوه چې په هغه کې هم د دریو واړو هېوادونو ترمنځ پر همکاریو، په سیمه کې پر روان وضعیت، له تروریزم سره د مبارزې په شدت او اقتصادي او سوداګریزو همکاریو باندې خبرې اترې شوې وې.

**چین ولې د کابل او اسلام اباد نږدې کول غواړي؟**

چین د پاکستان سیمه ییز او ستراتېژیک ملګری او ملاتړی هېواد دی او تل یې په سیمه ییز او نړیوال ډګر کې د پاکستان اړخ نیولی. د چین ولسمشر «شي جین پینګ» د ۲۰۱۵ زېږدېز کال د اپریل په ۲۰مه اسلام اباد ته د یو تاریخي سفر په ترڅ کې د چین او پاکستان د اقتصادي دهلېز (-China (Pakistan Economic Corridor- CPEC د جوړولو لپاره د ۴٦ میلیاردو ډالرو د پانګونې اعلان وکړ. دغه اقتصادي طرحه په وروستیو کلونو کې لا پراخه شوه چې اوس یې ارزښت ٦۲ میلیاردو ډالرو ته لوړ شوی دی. دا پروژه په حقیقت کې د یو کمربند یوې لارېOne (Belt One Road (OBOR) ) طرحې مهمه برخه ده چې چین په دې سره وکولای شول د پاکستان بندرونو په ځانګړي ډول ګوادر ته لاسرسی پیدا کړي.

د چین او پاکستان اقتصادي کواریډور په سیمه کې د ارتباط یوه شبکه ده چې د پاکستان بېلابېلې برخې له یو بل سره او ګوادر بندر چې په بلوچستان کې واقع دی، د چین له سنګیانګ ایالت سره تړي. په دې شبکه کې د لویو لارو جوړول، د اوسپنې پټلۍ، نوري فایبر، د هوایي راکړې ورکړې کانالونه، د ګازي انرژۍ د انتقال پایپ لاین شتون لري او په ټوله کې د ګوادر بندر له لارې د چین سوداګریزې اړیکې د سیمې او نړۍ له ډېرو هېوادونو سره پراخوي.

چین په سیمه کې له یوې خوا غواړي د انرژۍ په برخه کې د ګازو او تېلو اړتیا د منځنۍ اسیا او خلیجي هېوادونو څخه پوره کړي او له بلې خوا اروپا، افریقا او منځنۍ اسیا ته خپل سوداګریز توکي انتقال کړي. چین د سترې طرحې (یو کمربند یوې لارې One Belt One Road) په واسطه غواړي په سیمه او نړۍ کې خپل نفوذ پراخ او د هېوادونو ترمنځ د راکړې ورکړې په پراختیا کې ونډه واخلي.

چین د همدې موخو لپاره قوي ملګرو ته اړتیا لري، څو وکولای شي په سیمه کې د راکړې ورکړې قوي شبکه رامنځته کړي او پر بنسټ یې خپلې اړتیاوې پوره او خپل صادرات په ډېره نورو هېوادونو ته ورسوي. د همدې لپاره یې په پاکستان کې د سي پېک پر پروژه پانګونه وکړه چې په نتیجه کې یې د ګوادر بندر تر خپل کنټرول لاندې راوستی او د ځینو سرچینو پر بنسټ هلته یې بحري اډه هم جوړه کړې ده چې کولای شي د هند سمندر ډېرې برخې تر خپل څار لاندې ولري.

دا چې چین په سیمه کې د خپلو پروژو د تطبیق په موخه په لوړه کچه پانګونې کوي او پیل یې له پاکستان څخه کړی، اوس اوس غواړي دا پروژې د پلان سره سمې افغانستان او د سیمې نورو هېوادونو ته وغځوي. د دې لپاره چې د پاکستان او افغانستان اړیکې په وروستیو کې کړکېچنې دي او د سیاسي ناندریو په مېچن دل شوې دي، چین هڅه کوي چې د دغو هېوادونو اړیکې ورغوي، څو لږ تر لږه د چین د پروژو د تطبیق پر وړاندې معمولي خنډ هم جوړ نه شي.

**په سیمه کې د چین پر وړاندې خنډونه:**

دا چې چین په سیمه کې د راکړې ورکړې د شبکې د رامنځته کولو لپاره په پراخه کچه پانګونې کوي او غواړي خپل نفوذ پراخ کړي، په بېلابېلو برخو کې یې پر وړاندې ستونزې هم شته.

په پاکستان کې د چین ډېری پروژې د بلوچو له سیمو څخه تېرېږي. ګوادر بندر هم په بلوچستان کې واقع دی چې هلته بیا ځینې بلوچ بېلتون پال ګوندونه د مرکزي دولت پر وړاندې وسله واله مبارزه کوي او له بلوچو سره د نا عادلانه چلند څخه سر ټکوي، خو چین هم د اسلام اباد په ژبه له هغوی سره چلند غوره کړی چې په دې سره بلوچو څو ځله پر چینایي کارکوونکو او موخو بریدونه هم کړي دي او وروستۍ بېلګه یې تېره میاشت په کراچۍ کې د چین پر کونسلګرۍ د (بلوچ لېبرېشن ارمي) ډلې وسله وال برید یادولای شو.

همدارنګه په سیمه کې د چین- پاکستان پر وړاندې د هند او امریکا د اړیکو نږدې کېدل او په افغانستان کې د امریکا شتون او د چابهار بندر له لارې له هند سره د افغانستان د سوداګریزو اړیکو زیاتېدل هم کولای شو د دغو خنډونو یوه بېلګه وګڼو.

همدارنګه په سیمه او افغانستان کې د چینایي بېلتون پالو ډلو (د شرقي ترکستان ګوند غړیو) د فعالیت زیاتېدل چې چین وېره لري په سېنګیانګ ایالت کې ورته سرخوږی جوړ نه کړي چې دا هم د همدې لړۍ یوه برخه ده.

دا هغه ستونزې دي چې په سیمه کې د چین د پراختیایي پروژو پر وړاندې شتون لري او چین په پوره ځواک سره هڅه کوي چې د سیمې د هېوادونو ملاتړ ترلاسه او کوچنې خنډونه هم له خپلې لارې لرې کړي.

په حقیقت کې همدا اوس په پاکستان کې د چین هغه امپراتوري حاکمه ده چې اقتصادي بنسټ یې چینایي دی او امریکا په خپل ټول توان هڅه کوي چې له دوی څخه د میلیاردونو ډالرو ترلاسه کوونکی پاکستان، د چین پر دفاعي او نفوذي ډګر بدل نه شي. د بېلګې په توګه، د پاکستان د بلوچستان ایالت په چاغي سیمه کې د ریکودیک د سرو زرو د کان قرارداد یادولای شو چې امریکا ډېر فشار وارد کړ، څو دا کان د چینایانو لاس ته ونه غورځي.

له بل لوري چین اوسمهال په پاکستان کې په لوړه کچه پانګونه کړې او پاکستان یې په خپل محور را ګرځولی، څو د امریکا او هند پر وړاندې ورسره یوه قوي ملګرتیا جوړه کړي چې په مقابل کې یې امریکا پر پاکستان خپلې مرستې کمې کړې یا یې درولې او له هند سره یې چې د چین او پاکستان مشترک رقیب دی، اړیکې پراخې کړې دي چې په دې منځ کې بیا په خواشینۍ سره افغانستان د ناکام بهرني سیاست یا هم د مجبوریت له مخې د امریکا پر پل قدم اېښی او لا هغه وړتیا نه لري چې په خپل شاوخوا کې له رقابتونو څخه په خپله ګټه کار واخلي. امریکایان په پاکستان او شاوخوا ټوله سیمه کې د چین له پروژو خبر دي او په دې برخه کې یې اندېښنې هم څرګندې کړې. په وروستیو ورځو کې د امریکا د پوځ د ریزرف ځواکونو یوه متقاعد ډګروال «لارنس سېلین» ویلي: «چین او پاکستان د افغانستان لپاره ګډ پلانونه لري او د دغو پلانونو د عملي کولو لپاره غواړي چې متحده ایالتونه او لوېدیځ ملګري یې له افغانستانه وتلو ته اړباسي».

دغه پخوانی امریکایي پوځي زیاتوي، چین او پاکستان غواړي افغانستان او مرکزي اسیا ته د ګډ اقتصادي کواریډور پروژه وغځوي او ټوله سویلي او مرکزي اسیا تر خپل نفوذ لاندې راولي.

چین که له یوې خوا په سیمه کې د خپلو پراخو او سترو پروژو د تطبیق لپاره هڅه کوي، له امریکا او هند سره رقابتونه هم پالي او له پاکستان څخه په دې برخه کې کار اخلي. له بلې خوا د افغانستان په شمال ختیځو سیمو کې د را ټولو شویو ایغور بېلتون پالو له نفوذ څخه په وېره کې دی او هڅه کوي په هر ډول چې کېږي، د خپلو سرحدونو پر ساتنې سربېره له افغان دولت سره هم توافق ولري.

دې ټولو ته په کتو سره چین غواړي په سیمه کې د خپلو پروژو د تطبیق په موخه لږ تر لږه د دخیلو هېوادونو ترمنځ اړیکې ورغوي او په هر ډول چې کېدای شي د خپلو پروژو د تطبیق لپاره کار وکړي، ځکه دا داسې پروژې دي چې د چین راتلونکې ور پورې تړل شوې ده.

چین د خپلې انرژۍ د کمښت د پوره کولو او د نړۍ بېلابېلو برخو ته د خپلو صادراتو رسولو لپاره د دغو پروژو تطبیق ته جدي اړتیا لري او پرته له دې نه شي کولای خپلې اقتصادي ودې ته په ښه بڼه دوام ورکړي او له وړاندوېینو سره سم تر ۲۰۳۰ ز کال پورې په نړۍ کې لومړی اقتصادي ځواک وګرځي.

چین د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو په رغولو سره غواړي له یوې خوا هند او امریکا ته وښیي چې چین کولای شي له دوی پرته افغانستان او پاکستان سره نږدې کړي او خپلې سترې پروژې تطبیق کړي او له بلې خوا د سیمې د هېوادونو ترمنځ د تضاد فضا کمه کړي چې په دې سره به د امریکا د لاسوهنو زمینه را کمه او د وسله والو ډلو د فعالیت مخه به ډپ شي.

---

# حکمتیار: طالبان دې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې له موږ سره ودرېږي

د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار وایي، له طالبانو یې غوښتي چې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د دوی ترڅنګ ودرېږي .

حکمتیار وایي، طالبانو ته یې وړاندیز کړی چې په ټاکنو کې ګډون وکړي او د حزب اسلامي په ګډون د ګوندونو له یوې ټلوالې سره چې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره په ګډه ټکټ کار کوي، یو ځای شي.

حکمتیار د طالبانو او سیاسي ګوندونو د یادې ټلوالې تر منځ په دربېمګړي هېواد کې د ځانګړې ناستې د چمتووالي خبر هم ورکړ. د هغه په وینا، د دغو ګوندونو په مجموعه کې د هغه د حزب اسلامي د همفکره ګوندونو استازي شامل دي.

حکمتیار دغه راز طالبانو ته په خپل وړاندیز کې دا هم ویلي چې داسې ټاکنیز ټکټ به جوړوي چې هم یې ولسمشر د ټولو په خوښه وي او هم په کابینه کې طالبانو ته دومره ونډه ورکړي چې که له نورو ډېره نه وي، لږ به هم نه وي.

نوموړی وایي، که طالبان دغه وړاندیز ومني، له یوې خوا به په راتلونکي دولت کې برخه ولري او له بل پلوه به د دوی اصلي غوښتنې چې د بهرنیو ځواکونو وتل او په حکومت کې بدلون دی، هم ومنل شي .

حکمتیار وویل: «طالبانو دوه شرطونه لرل، یو دا چې د بهرنیو ځواکونو د وتو مهالوېش باید وټاکل شي او بل دا چې اوسنی حکومت نه مني او حتی ورسره خبرو ته هم چمتو نه دي».

نوموړي چې په کابل کې یې یوې خبري غونډې ته وینا کوله، تېرې پارلماني ټاکنې هم له درغلیو ډکې وبللې او د هغو پایلې یې رد کړې.

هغه خبرداری ورکړ چې د دغو ټاکنو په غبرګون کې به کېدونکي اعتراضونه نور هم پراخ شي.


هغه دغه راز د افغانستان د ټاکنیز سیستم د بدلون غوښتنه وکړه او ویې ویل، دا سیستم چې د یوې او نه لېږدېدونکې رایې پر نظام ولاړ دی، پي ار یا ګوندي سیستم ته دې بدل شي.

حکمتیار د سولې لپاره د افغان حکومت او ولسمشر غني پر هڅو هم سختې نیوکې وکړې.

هغه وویل، د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د وینا له مخې باید باصلاحیته پلاوی جوړ شوی وای، خو د هغه په اند حکومت د مشورتي بورډ په جوړولو سره غواړي دا پروسه په خپل قابو کې وساتي.

حکمتیار وویل، په هېواد کې روان وضعیت د اندېښنې وړ دی او ټول هېواد له بحران سره مخ دی. د ده په خبره، د اوسني بحران ستر لامل اوسنی کمزوری، ضعیف او ناکام حکومت دی. هغه وویل، ولس باید په راتلونکو ټاکنو کې داسې کس ته رایه ورکړي چې هغه په ارګ کې دیکتاتوري جوړه نه کړي، هر کار په خپله خوښه ونه کړي، پارلمان، قوانینو او سیاسي ګوندونو ته درناوی ولري، څو په دې توګه د ملي یووالي د حکومت ناکامه تجربه تکرار نه شي.

د یادونې ده چې له طالبانو د حکمتیار د دې غوښتنې په اړه، طالبانو تر اوسه څه نه دي ویلي.



---

# د نړۍ ۲۰۰ هېوادونو د پاریس تړون د عملي کېدو پر څرنګوالي موافقه وکړه

د نږدې ۲۰۰ هېوادونو استازو د پولنډ په کاتوویتسا کې له دوې اونۍ ناستې وروسته له اقلیمي بدلون سره د مبارزې په برخه کې د پاریس د تړون عملي کېدو پر څرنګوالي موافقه وکړه. له دې موافقې سره سم به په ۲۰۱۵ ز کال کې د پاریس شوې هوکړه له ۲۰۲۰ ز کال وروسته عملي کېږي.

د اقلیمي بدلون په برخه کې دغه ۲۴مه ناسته د ډسمبر له څلورمې پیل شوې وه چې د پاریس د هوکړې د عملي کېدو پر څرنګوالي پکې خبرې اترې وشوې. دا غونډه د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه ترسره شوه او د اختلافونو له امله یوه ورځ وغځېده.

د نړۍ د پیاوړي اقتصادي هېواد په توګه امریکا د ډونالډ ټرمپ له ولسمشرۍ سره سم اعلان وکړ چې د پاریس له هوکړې وځي، خو له دې سره بیا هم امریکا د پولنډ د مذاکراتو وروستۍ هوکړه لاسلیک کړه.

د غونډې ګډونوال باور لري چې د کاربن د تولید د کچې راټیټولو لپاره به دغه هېوادونه خپلې ژمنې عملي کړي.

دوی ویلي چې په دې برخه کې دې راتلونکې غونډه تر ۲۰۲۰ ز کال مخکې جوړه شي.

د غونډې ګډونوال وایي، نوي اقدامات کولی شي چې د پاریس هوکړه عملي کړي.

د پولنډ په دې ناسته کې ګډون کوونکو هېوادونو هوکړه کړې چې تر ۲۰۳۰ ز کاله به د ډای اکسیدکاربن تولید کچه راټیټه کړي، څو د ځمکې د تودوخې کچه هم کمه شي.

د پولنډ د غونډې مشر میکال کورتیکا وویل: «د پاریس د تړون عملي کولو برنامه یو لوی مسوولیت دی. دا یوه اوږده لار ده. موږ په دې برخه کې خپله ټوله هڅه کړې.»

د پولنډ ناسته داسې مهال کېږي چې د اقلیمي بدلون په برخه کې یو علمي بنسټ (ای پي سي سي) خبرداری ورکړی چې د ځمکې تودوخه په پراخه کچه مخ پر زیاتېدو ده او ژر تر ژره باید په بې ساري کچه ګامونه پورته شي، څو د اقلیمي بدلون اغېز کم شي.

د ډېری هېوادونو استازو د پولنډ په کنفرانس کې د امریکا، سعودي او روسیې د دریځ په اړه خواشیني څرګنده کړې. دغو هېوادونو د اقلیمي بدلون په برخه کې د یاد علمي بنسټ خبرداری ننګولی او له دې غونډې یې غوښتي چې د پایلو په اړه یې ډېر پام ونه کړي. د ځمکې د اوبو او هوا ګرمېدو په اړه په پاریس کې د ۲۰۱۵ ز کال له غونډې وروسته دا د ملګرو ملتونو تر ټولو مهمه ناسته بلل شوې. د پولنډ دغه ناسته داسې مهال کېږي چې د پاریس تړون د عملي کېدو لپاره د مقررو او جزیاتو د تدوین ضرب الاجل د روان کال تر پایه یا یوه میاشت وروسته پوره کېږي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

**لومړۍ څپرکی**
**پر خپل بري باور ولرئ:**




تېر کال یې یو میلیون ډالر خرڅلاو درلود او پر دې باور و چې را روان کال دا خرڅلاو تر دوو میلیونو لوړولای شي.
قوي ایمان ستاسې ذهن لارو، وسایلو او څرنگوالي ته بیایي. که تاسې د یوه کار په کېدو باور ولرئ، همدا باور د نورو خلکو پام هم در اړوي.
زیاتره خلک ایمان او باور چنداني جدي نه بولي، خو له نېکه مرغه ټول خلک داسې نه دي. زما یو ملگری په یو دولتي سرک کې کار کوي، څه وخت مخکې یې راته کیسه وکړه، دا کیسه که د غره خوځول نه وو، نو کمه هم ترې نه وه، ویل یې:
(تېره میاشت مو په لویو لارو د اتو پلونو د طراحۍ پروژه اعلان کړه. د ټولو پلونو لگښت پنځه میلیونه ډالر و او یوازې د طراحۍ یا ډیزاین ورته دوه سوه زر ډالر ورکول کېدل.
ما بولی ته یوویشت شرکتونه راوبلل، څلورو لویو شرکتونو سمدستي پرېکړه وکړه چې خپل قیمتونه راته وسپاري. پاتې اوولس شرکتونه ډېر واړه وو او هر شرکت له دوو تر اوو انجینران لرل. د پروژې لویوالی د دې لامل شو چې تقریباً اوولس ټول شرکتونه ترې منصرف شول، دوی چې طرحه وارزوله سر، یې د (نه) په نښه خوځوه، ویل یې: (دا پروژه ډېره لویه ده، زموږ له وسه پورته او په دې هم نه ارزي چې یو ځل یې وازمایو.)
خو یو وړوکی شرکت و، ټول یې دري انجینران لرل، دوی اعلان وکړ چې ډیزاین موږ کوو، ډېر زر یې وړاندیز (پروپوزل) ورکړ او پروژه یې وگټله.)
څوک چې پر خپله ورتیا باور ولري، غرونه له ځایه خوځولای شي او څوک چې پر خپله ورتیا باور نه لري، تر دې واړه کارونه هم نه شي کولای. باور د (کېدو) قوت درکوي.
باور په اوسني وخت کې، تر غرونو خوځولو لوی کارونه کولای شي. فضا ته د لاسرسي تر ټولو لوی او اصلي لامل دا و چې موږ ویل: موږ فضا تسخیرولای شو. که چېرې د فضا د تسخیرولو قوي ایمان نه وای، زموږ ستورمزلو او عالمانو به د دې کار زړه، علاقه او شوق هم نه درلودی. د سرطان په درملنې قوي باور به بلاخره دې ناروغۍ ته درملنه ومومي (او دا دی د ډېرو سرطانونو درملنه شونې ده.) اوس پر دې خبرې رواني دي چې د اوبو لاندې یو تونل جوړ شي او انگلستان له اروپا سره ونښلوي. د دې تونل جوړېدل او نه جوړېدل د هغو خلکو په باور پورې اړه لري چې د دې تونل د جوړولو مسئولیت ورسپارل شوی دی.
د لوړو پایلو په ترلاسه کولو باور، خپله محرکه قوه ده. د نړۍ ټول ادبي شهکارونه او علمي کشفیات پر همدې قوي ولاړ دي. د ټولو بریالیو مسلکونو، دینونو او سیاسي سازمانونو تر شا پشتوانه همدا پر بریا باور دی. پر بریا باور د بریالیو انسانانو د طبیعت اصلي او مهمه برخه ده.
پر خپلې بریا باور ولرئ او دا ومنئ چې حتماً بریالي کېږئ. زه کلونه کلونه له داسې خلکو سره غږېدلی یم چې په خپلو کارونو کې ناکام وو. د ناکامۍ بې شمېره دلایل یې راته ویلي دي. له دوی سره چې خبرې څومره وړاندې ځي، هومره یو حقیقت راښکاره کېږي، کله کله یې په خوله دا خبرې راځي چې: (که رښتیا درته ووایم، زه خپله هم پوهېدم چې داسې نه کېږي.) یا (د کار له پیله مخکې مې دا وېره لرله چې...) یا (ما چې څنگه غوښتل کار هغسې و نه شو او زه پوهېدم چې داسې به کېږي.)
که څوک داسې فکر کوي چې: (زه دا کار کوم، خو ښه پوهېږم چې نه کېږي.) نو د دې کار پایله یوازې ناکامي ده.
بې باوري ویجاړوونکی قوت دی. کوم خلک چې باور نه لري یا شکمن شوي وي، دوی په داسې دلایلو پسې گرځي چې خپل زړه نا زړه توب پرې توجیه کړي. د ډېرو ماتو، بې باوریو او نارامیو لامل ماتې ته لاشعوري لېوالتیا او له بریا سره چندان مینه نه کول دي.
ماتې ته مو یوازې شک او بریا ته مو یوازې باور بس دی!
څو ورځې مخکې راسره یو ځوان لیکوال خپل د ناول لیکنې ارمانونه شریکول، خبره یوه مشهور ناول لیکوال ته ورسېده.
هغه وویل: اووه! هغه خو ډېر لوی لیکوال دی، زه د هغه د پښو گرد ته هم نشم رسېدای.
د هغه دې خبرو زه نهیلی کړم، ځکه ما هغه لوی لیکوال پېژانده، نه یې چنداني فکر درلود او نه داسې فوق العاده نوښت. هغه سړی په هېڅ برخه کې فوق العاده نه و، خو یوازې پر ځان یې باور درلود. هغه لوی لیکوال پر دې باور درلود چې لوی لیکوال دی، په همدې خاطر یې ښه لیک کاوه او خپل کار یې ډېر ښه ترسره کاوه.
مخکښو څېرو ته درناوی ښه دی، زده کړه ترې ښه ده، د شخصیت او ژوند مطالعه یې ښه ده، خو ستاینه یې هېڅ ښه نه ده! تاسې باور وکړئ چې له هغوی مخکې کېدای شئ، تر هغوی لوړېدای شئ. څوک چې ځان په دویمه درجه کې گوري، کار او ژوند به یې هم په دویمه درجه کې وي.
اوس د قضیې دا اړخ وگورئ. باورونه د انسان چلند تراشي او تنظیموي یې. تاسې د منځنۍ کچې یو تن ته پام وکړئ، هغه پر دې باور دی چې چنداني ارزښت نه لري، ځکه خو چنداني برخه هم نه ور رسېږي. همدا کس باور لري چې زه لوی کارونه نشم کولای، ځکه خو لوی کارونه هم نه شي کولای. دی باور لري چې زه چنداني مهم نه یم او په همدې خاطر هر ځای کې د ده دا باور رښتیا کېږي هم. پر ځان بې باوري یې په خبرو، گرځېدو او نورو ټولو چارو کې ښکاري. که د ده دننه تنظیموونکی دا سړی د ودې او پرمختگ خواته تنظیم نه کړي، نو دا سړی د وخت په تېرېدو له خپلو پښو لوېږي. بل خوا د ده په چلند کې هم دا خبره ښکاري، نور خلک هم ورته په همدې نظر گوري او بلاخره د نورو له سترگو هم لوېږي.
**دوام لري...**

# استرالیا

◀ حشمت الله نوري

اوقیانوسیه چې تر اوسه د استرالیا د قارې په نامه پېژندل کېږي، د نړۍ تر ټولو کوچنۍ لویه وچه ده. جغرافیه پوهان اوقیانوسیه د جلا لویې وچې په توگه نه پېژني او هغه په ارام سمندر کې د اسیا د لویې وچې لمن بولي.
له ۴۰۰۰ کلونو را په دېخوا په دې لویه وچه کې بومي انسانانو ژوند پیل کړی.
په ۱۷مه پېړۍ کې د جنوب له لوري د کب نیوونکو او د اروپایي سوداگرو له لیدنې وروسته په ۱۷۷۰ ز کال کې د برېټانیا حکومت د دې وچې نیمه ختیځه سیمه په خپل دولت کې ورگډه کړه او په رسمي توگه یې د ۱۸۸۸ ز کال د جنورۍ په ۲٦مه د نوي ویلز په نامه په دې سیمه کې مېشت شول.
د استرالیا لویه وچه په لومړۍ نړیواله جگړه کې د برېټانیا په ملگریتوب له ننۍ ترکیې سره یو ځای شوه چې په همدې جگړه کې یې له ٦ زرو زیات عسکر ووژل شول او په دویمه نړیواله جگړه کې د استرالیا شمالي او ختیځې سیمې د جاپانیانو له خوا بمبارد شوې او امریکایي عسکر هم دلته ځای په ځای شول.
استرالیا د ۱۹۹۱ ز کال د جنورۍ په لومړۍ خپلواکي واخیسته، خو د جنورۍ ۲٦مه هر کال په دغه لویه وچه کې د خپلواکۍ د ورځې په نامه نمانځل کېږي.
استرالیا په ۱۹۴۵ ز کال د نومبر په لومړۍ د ډېرو نړیوالو ټولنو ترڅنگ د ملگرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.
د استرالیا لویه وچه شمال ته د ارافورا سیند، کارپینټاریا خلیج اواندونیزیا، جنوب ته د هند له سمندر، ختیځ ته له ارام سمندر او لوېدیځ ته د هند له سمندر سره گډه پوله لري.
دا لویه وچه د سمندر له سطحې څخه ډېره لوړه نه ده، ځکه خو لویو سیندونو او سمندرونو کلابنده کړې ده.
د استرالیا هوا په عمومي توگه لنده سمندري ده.
د دې لویې وچې د جگو غرنیو سیمو هوا سړه ده او په ژمي کې له صفر څخه ښکته کېږي، خو د نورو هوارو سیمو هوا یې په منځنۍ توگه د سانتي گرېد په کچه د ۱۳ او ۲۷ ترمنځ توپیر پیداکوي. د استرالیا لویې وچې تر ټولو لوړه څوکه کازیاسکو نومېږي چې ۲۲۳۰ متره لوړوالی لري.
په دغه هېواد کې بېلابېل قومونه مېشت دي، دیوې سروې له مخې د دغه هېواد ۲،۵ سلنه وگړي هالنډیان، ۱۰، ۴ سلنه یې سکاټلنډیان، ۷،۹ سلنه یې جرمنیان. ۴،۵ سلنه چینایان، ۲ سلنه یونانیان او پاتې نور یې له بېلابېلو قومونو څخه دي.
د استرالیا ۹۲ سلنه خلک سپین پوستي او ۸ سلنه نور یې اسیایي نژاده دي.
په دغه هېواد کې ۱۲۰ بېلابېل ملیتونه ژوند کوي. ۲٦ سلنه وگړي یې انگلیکن، ۲٦ سلنه یې رومن کاتولیکان، ۴ سلنه یې ارتودوکس او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو او مذهبونو پیروان دي.
سیډني، ملبورن، بریزبنړ، پرت، ادلید، نیوکاسل، کولډکوست، ولونگانک، جلانک، تاونزویل، لانستان، کرنز، بلارت، داروین او بندیکو یې مهم ښارونه دي.



ملبورن او سیډني د استرالیا هغه دوه ښارونه دي چې د نړۍ له گوټ گوټ څخه زرگونه خلک د چکر او سیاحت لپاره ورځي. دغه لویه وچه د ٦،۷ میلیونه کلیومتره مربع مساحت په درلودو سره د نړۍ شپږم لوی هېواد بلل کېږي.
نفوس یې د ۲۰۱٦ ز کال د سروې له مخې ۲۴ میلیون تنه اټکل شوی چې په هر کلیومترمربع ځمکه کې یې ٦ تنه ژوند کوي. دغه راز د استرالیا ۹۵ سلنه خلک په لیک او لوست پوهېږي. پلازمېنه یې د کانبرا ښار دی. ۸۸،۹ سلنه خلک یې په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ۱۱،۱ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. رسمي ژبه یې انگلیسي ده، خو په استرالیایي لهجه پرې خبرې کوي.
د حکومت ډول یې فدرالي دی. پارلمان یې د انگلستان ملکه د خپل تشریفاتي مشر په توگه مني. د استرالیا د فدرالي دولت لومړنی اساسي قانون د ۱۹۰۰ ز کال د جولای په ۹ مه جوړ او د ۱۹۰۱ ز کال د جنورۍ په لومړۍ نافذ شو.
پاچایي په استرالیا کې میراثي ده. د دغه هېواد گورنر جنرال د پاچا لهخوا ټاکل کېږي. له ۱۹۸٦ ز کال څخه د مخه د استرالیا گورنر جنرال او د شپږ ولایتونو مشران د انگلستان د ملکې استازي بلل کېدل، خو له ۱۹۸٦ ز کال را وروسته د انگلستان ملکې د استرالیا د قوانینو د جوړولو یا تعلیق د غټو مامورینو د ټاکنې یا عزل د استرالیا د محاکمو د پرېکړو د نفې او یا د دغه هېواد په کورنیو چارو کې د مداخلې واکونه له لاسه ورکړل او یوازې تشریفاتي دریځ یې په ځای پاتې شو.
د استرالیا په فدرالي ولسي جرگه کې د هغه گوند یا ائتلاف مشر چې ډېرې څوکۍ وگټي، د هېواد د لومړي وزیر په توگه ټاکل کېږي. د دغه هېواد د کابینې وزیران د فدرالي ولسي جرگې د غړو له منځ څخه د لومړي وزیر په مشوره د گونرجنرال لهخوا ټاکل کېږي. د دغه هېواد لومړی وزیر معمولاً درې کاله کار کوي.
د دغه هېواد فدرالي شورا له سنا او علیا شوراگانو څخه جوړه شوې ده. لومړۍ د مشرانو جرگه یې ۷٦ غړي لري چې له هر ولایت څخه ۱۲ کسان او له دوو جلا سیمو څخه یې ۴ کسان ټاکل کېږي. د دغه ۷٦ غړو له ډلې یې نیمایي کسان په هرو دریو کلونو کې د ٦ کاله استازیتوب لپاره د خلکو په خوښه ټاکل کېږي چې هر ولایت یې ۵ استازي لري.
په استرالیا کې رایه ورکول عمومي دي او د رایې ورکولو سن پکې ۱۸ کاله ټاکل شوی دی.
دغه هېواد د اداري وېش له مخې په ٦ ولایتونو او ۲ سیمو وېشل شوی دی.
لېبرال گوند، کارگر گوند او زرغون گوند د استرالیا له مخکښو او نفوس لرونکو گوندونو څخه دي. د ۱۹۹٦ ز کال له نومبر څخه تر ۲۰۰۷ ز کال پورې لېبرال گوند پر استرالیا واکمن و او جان هوارډ د دغه گوند رییس ۱۱ کاله لومړی وزیر پاتې شو. له دې وروسته د ټاکنو له مخې د کارگر گوند خپل سیال لېبرال گوند ته ماتې ورکړه او کوین راد چې د کارگر گوند رییس و، د استرالیا د لومړي وزیر په توگه وټاکل شو. د ۲۰۱۰ ز کال په جون کې کوین راد له خپلې دندې گوښه شو او پر ځای یې مېرمن جولیا کیلارډ چې دا هم د کارگر گوند مشره وه، د استرالیا د لومړۍ وزیرې په توگه خپله دنده پیل کړه. له دې وروسته بیا ملکوم ترنبال د گوند د داخلي ټاکنو له مخې ټوني ابوټ ته ماتې ورکړه او د استرالیا د ۲۹م لومړي وزیر په توگه یې د ۲۰۱۵ ز کال د سپټمبر په ۱۴مه خپل رسمي کار پیل کړ.
د طبیعي جوړښت له مخې استرالیا داسې هېواد دی چې د کرنې او څارویو د روزنې لپاره پراخه ځمکې او څړځایونه لري.
دغه هېواد بډایه طبیعي زېرمې لري. په ۱۸۵۱ ز کال کې په استرالیا کې د سرو زرو پیدایښت د انگرېزانو او نورو اروپایانو سترگې وبرېښولې او په سلگونو زرو کسانو دغه پراخ هېواد ته مهاجرت وکړ. اوسمهال استرالیا د څو لوېدیځو هېوادونو په شان د نړۍ خورا پرمختللی هېواد دی او ازاد بازار یا پانگوال اقتصادي نظام لري. د دغه هېواد د سړي سر کلني عاید کچه د نړۍ د ډېرو هېوادونو د خلکو په شان له ۴۰۸۰۰ ډالرو څخه لوړ ده.
استرالیا د طبیعي زېرمو له پلوه د نړۍ له خورا بډایو هېوادونو څخه شمېرل کېږي. کرنیز محصولات، کاني توکي، فلزات او اومه نفت د دغه هېواد غټ صادراتي اقلام دي او د دغه هېواد د صادراتو ۵۷ سلنه برخه جوړوي.
د استرالیا په پراخه خاوره کې دومره طبیعي زېرمې پرتې دي چې د سلگونو کلونو لپاره یې اقتصاد چلولی شي. د ډېرو سکاره، اوسپنه، مس، سره زر، طبیعي گاز، یورانیم او د انرژۍ منابع یې مهمې زېرمې دي چې ډېر پانگوال او نړیوال شرکتونه یې په استرالیا کې پانگونې او کار ته هڅولي. د گورگان د گازو د اوبلن کېدو پروژه یې ۴۰ میلیارده ډالره لگښت لري چې پلي کول به یې د استرالیا په کورني اقتصاد او بهرنیو اړیکو کې بې ساري بدلون راولي.
چین، جاپان، جنوبي کوریا، هند، د امریکا متحده ایالتونه، جرمني، سنگاپور، ټایلنډ او مالیزیا یې لوی سوداگریز شریکان دي.
په ۲۰۱٦ ز کال کې د یوه انگلیسي شرکت له خوا د نړۍ د ښه ژوند لپاره د سهولتونو د برابرولو له کبله د نړۍ د مختلفو هېوادونو لېست خپور شو چې استرالیا هم په دغو لسو غوره هېوادونو کې ځانگړی مقام درلود.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ۵۴۲ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹۵,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د نړۍ کوم هېوادونه تر نورو ډېر مېلمه پال دي؟

حمیدالله حمیدي

له شک پرته چې مېلمه د خدای رحمت دی او له ځان سره د کوربه کره د پنځو کسانو رزق وړي. مېلمه د بختور سړي وي او پر کور یې د الله پاک رحمت وربېږي. له دې سره په څنګ کې، مېلمه پال کس ته په دې دنیا عزت او په اخرت کې ثواب ورکول کېږي. مېلمه پال هېوادونه یوازې د هغه هېواد د خلکو له چال چلند څخه معلومېږي، بل کوم ځانګړی معیار نه لري څو تاسو پوه شی چې د کوم هېواد اوسېدونکي مېلمه پال دي. د دې لپاره هېڅ کومه علمي کړنلاره هم نشته چې په وسیله یې د یوه هېواد مېلمه پالنه معلومه کړي. یوازې د چال چلند او ذهني برداشت په وسیله دغه څه درک کېدای شي. د نړۍ د ځینو هېوادونو وګړي په مېلمه پالنه کې نوم لري، خو ځینې نور بیا ښېخي بې خاصیته دي، هېڅ به پوه نه شی چې اوس دغه خلک ستاسو په لیدو خوشاله دي او که خپه او یا دا چې هېڅ ارزښت ورته نه لری. د نړۍ هغه هېوادونه چې وګړي یې ډېر مېلمه پال دي په همدې لیکنه کې یې درپېژنو:

**۱-افغانستان**

یو څه چې باید مخکې له مخکې یې ووایم، هغه دا چې افغانستان په دې برخه کې ساری نه لري. د افغانستان خلک په مېلمه پالنه کې خورا مشهور دي. موږ چې کله د ځینو نورو هېوادونو نومونه اخلو، له ځان سره وایو چې د دغه هېواد خلک هم لکه د افغانستان د خلکو په څېر مېلمه پال دي. د افغانستان د خلکو پخوانۍ حجرې چې اوس ورته مهمانخانې وایي، د هر چا پر مخ خلاصې دي. که سپوره وي یا پوره، له مېلمه سره یې شریکوي. ډېری وخت د مېلمه مینه او عزت ور باندې دومره زور وکړي چې خپل اولاد ته سپوره ډوډۍ ږدي، خو مېلمه ته بیا هغه



څه تیاروي چې په وس یې پوره وي.

**۲-ایرلنډ**

د ایرلنډ خلک د نړۍ په کچه په مېلمه پالنه کې لومړی ځای لري. د دې خبرې معلومول چې د ایرلنډیانو په پرتله افغانان او کاناډایان مېلمه پال دي که نه، یوه سخته خبره ده. خو یو څه چې باید دلته یې یادونه وکړو هغه د ایرلنډیانو متفاوت والی دی چې په دې برخه کې د ستاینې وړ دي. همدا د دوی مېلمه پالنه ده چې ایرلنډ نن سبا د نړۍ د هغو هېوادونو په ډله کې راځي چې ډېر بهرنیان د سفر، سیل او چکر لپاره ورځي. سیلانیان چې له دغه هېواده کومه په زړه پورې خاطره وړي، نو هغه د ښې مېلمه پالنې وي. د دوی لپاره دا خاطره نه هېردونکې او یو داسې څه وي چې نورو ته یې په ویلو مقابل کس هم دې ته زړه ښه کوي چې یو ځل هرو مرو له دغه هېواد څخه لیدنه وکړي.

**۳-استرالیا**

موسکا د ټولو بهرنیانو لپاره د استرالیایانو ډالۍ ده. د استرالیا خلک مېلمه پال دي او له نوو ورغلو کسان سره ډېر ښه چلند کوي. په دغه هېواد کې د مینې او دوستۍ فضا دومره حاکمه ده چې فکر به وکړی خپل کلي-کور ته راغلي یاست. سیلانیان په دې اند دي چې هېڅ امکان نه لري چې په استرالیا کې د چا زړه تنګ شي او یا هم د یوازېتوب احساس وکړي.

**۴- کاناډا**

په ۲۰۰۸ ز کال کې یوه څېړنه تر سره شوه چې له شلو هېوادونو څخه پکې لږ تر لږه شلو زرو کسانو ګډون کړی و. دغو ګډونوالو د ۵۰ هېوادونو په ډله کې ډېرې رایې کاناډا ته ورکړې وې. د څېړنو پایلو وښوده چې کاناډا په نړۍ کې لومړنی هېواد دی چې وګړي یې تر نورو ډېر مېلمه پال دي. کېدای شي ډېری کسان په دې اند وي چې مېلمه پالنه به تر ډېره په اسلامي هېوادونو کې وي، ځکه د اسلام په مبارک دین کې د مېلمه پالنې ډېره ستاینه شوې، خو دغه څه تر ډېره یوه دود او رواج ته هم ور ګرځي. په ډېری هېوادونو کې مېلمه پالنه له پخوا څخه د یوه مهم او داسې دود په توګه تر نن پورې رسېدلې چې خلک ورته د یوه مهم مذهبي دود په سترګه ګوري. دوی په دې اند دي چې که د مېلمه پالنه په سمه توګه ونه شي، نو دوی به خپل یو مهم انساني فرض په سمه توګه نه وي ځای پر ځای کړی.

**۵- ایران**

مېلمه پالنه په ایران کې له ډېرې پخوا زمانې څخه دود ده چې لا هم دغه رواج په هماغه پخواني ډول پاتې دی. په ایران کې چې له هر چا سره مخ کېږی، ستاسو لپاره یې ښه ډالۍ موسکا ده. که ایران ته مو سفر نه وي کړی، نه پوهېږی چې د دغه هېواد خلک څومره مېلمه پال دي. په ایران کې مېشت د نورو هېوادونو وګړي دا ښه درک کولی شي. دوی تر ډېره په خپلو خاطرو کې وایي چې د ایراني وګړو کور ته په لومړي ځل ورتلو سره موسم ته په کتو داسې یو څه درکوي چې ستاسو خوله در خوږه کړي. د بېلګې په توګه، که د اوړي په تکنده غرمه کې تاسو د کوم ایراني وګړي کورته ورځی او یا یې هم د کور له مخې سره کار کوی، لومړی درته یخ او خواږه شربت راوړي او د مېلمه پالنې دود پر ځای کوي.

**٦- ګرجستان**

د څېړنو او درجه بندۍ له مخې ګرجستان د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې خلک یې ډېر مېلمه پال دي. نه یوازې د دغه هېواد خلک مېلمه پال دي، بلکې، غرونه، دښتې، ښار او ټول هغه ځایونه چې ستاسو سترګې پرې لګېږي، ښکلي او زړه راښکونکي دي. په ګرجستان کې هېڅ مسافر د غریبۍ او لوږې احساس نه کوي. د دغه هېواد خلک په دې باور دي چې مېلمه د خدای پاک دوست دی. دوی په دې اند دي چې که د مېلمه سمه پالنه ونه شي، د خدای قهر به ور باندې نازل شي. په ټوله کې د دغه هېواد وګړي مېلمه پال دي، داسې چې دغه څه یې په خټه کې نغښتي دي. که له ډېرې پخوا زمانې څخه د دغه هېواد تاریخ ته وکتل شي او وسپړل شي، نو په مېلمه پالنه کې خورا ښه نوم لري. مېندې او پلرونه د ژوند د نورو مهمو شیانو په څېر مېلمه پالنه هم خپلو اولادونو ته ور زده کوي او د ژوند د یوه مهم اړخ په توګه ورته ګوري.

## مشرانو جرګه: د سولې د هڅو عملي نښانې نه لیدل کېږي



د مشرانو جرګې د نړیوالو اړیکو کمېسیون وایي، د سولې د هڅو عملي نښې نښانې نه لیدل کېږي. د دې جرګې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون رییس احمد جاوید رووف له ازادي راډیو سره په خبرو کې وویل، د افغان سولې په اړه روان حالت د خلکو ذهنونه مخشوش کړي دي.

رووف وویل: «دلته دوه حالته دي، یو حالت دا دی چې امریکا وایي، سوله غواړو او خلیلزاد هم ورته هڅه کوي. د افغانستان خلک هم په لومړیو کې ورته چمتو وو، خو اوس د سولې کومه نښه نه لیدل کېږي. کله چې سوله غواړو یوه نښه یې باید ولیدل شي. طالبان خپله جګړه کوي، خپلې انتحاري حملې کوي، په رسنیو کې دوی څپل کېږي. ولسمشر وایي، په پنځو کلونو کې سوله راځي. دا یو عجیب حالت دی او د خلکو ذهنونه یې مخشوش کړي دي.»

د افغان سولې لپاره هڅې په دې وروستیو کې تر بل هر وخت تېزې شوې او په دې لړ کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد درې ځلې د سیمې هېوادونو ته سفرونه کړي او له طالب چارواکو سره پرې غږېدلی دی.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې د نړیوالو اړیکو د کمېسیون ځینې غړي که څه هم د افغانستان د سولې لپاره د روانو هڅو هرکلی کوي، خو وایي چې په افغانستان کې جګړه ډېره پېچلې ده، نو له همدې کبله به سوله هم ډېره پېچلې وي.

د دغه کمېسیون غړي ګل پاچا مجیدي وویل: «زما په اند په افغانستان کې جګړه ډېره پېچلې ده او سوله راوستل به هم ډېر پېچلي وي. ولې په اوسنیو حالاتو کې چې کوم د سولې لپاره هڅې روانې دي، یو څه نوي تحرکات او نوي مسایل لیدل کېږي چې هغه سړی دې ته خوشبینه کوي چې افغانستان ته سوله راشي. اګر چې مخکې مې هم وویل چې دغه سوله به ډېره پېچلې وي.»

مجیدي د افغانستان د سولې مسئلې ته د امریکا لېوالتیا، د دې پروسې د ضمانت کوونکي په توګه د اروپایي ټولنې رول او دغه راز د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو لهخوا د یوې اجماع رامنځته کېدل په ځانګړي ډول د چین او پاکستان همکاري، د افغان سولې په برخه کې نوي او مهم تحرکات یادوي.

## په هلمند کې د شپنیو عملیاتو پر مهال د عامو خلکو دوکانونه سوځول شوي



د هلمند د ګرمسېر ولسوالۍ اوسېدونکي وایي، ګډو ځواکونو د شپنیو عملیاتو پر مهال د دوی یوشمېر دوکانونه سوځولي.

د هلمند د والي ویاند عمر ځواک د دغه خبر د پخلي ترڅنګ ویلي چې د ګرمسېر ولسوالۍ په امر اغا بازار کې سوځول شوي دوکانونه د تریاکو د پېر او پلور وو چې ټول یې له منځه وړل شوي دي.

په ورته وخت کې ځینې دولتي سرچینې او د سیمې اوسېدونکي وایي، دوکانونه د تریاکو د پېر او پلور نه، بلکې د عامو خلکو د بېلابېلو توکو وو چې ګډو ځواکونو د شپنیو عملیاتو پرمهال سوځولي دي.

په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره په کور دننه او سیمه ییزه کچه هڅې تېزې شوې، خو ورسره سم ګډو ځواکونو شپنیو عملیاتو او هوایي بریدونو ته زور ورکړی چې تر ډېره پکې ملکي وګړي په نښه کېږي او دوی ته مرګ ژوبله اوړي. په تازه پېښو کې درې ورځې وړاندې د هلمند په سنګین او د کونړ په شلتن کې د هوایي بریدونو له کبله د ښځو او ماشومانو په ګډون لسګونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته.

په همدې حال کې تېره ورځ د هلمند مدني فعالانو د یوې اعتراضیه غونډې په ترڅ کې وویل چې په هلمند او کونړ ولایتونو کې د هوایي بریدونو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې مسوولین باید محاکمه شي.

په دې غونډه کې د هلمند د مدني ټولنې مشر نظرمحمد رودي وویل چې په دې وروستیو کې د هلمند او کونړ ولایتونو په ګډون د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو پرمهال ملکي مرګ ژوبله نوره ورته د زغملو نه ده.

نوموړي وویل: «موږ د حکومت د ټولو هغو فعالیتونو ملاتړ کړی چې د خلکو پکې خیر و، خو دغه ډول عملیات یې نه منو».

دا لومړی ځل نه دی چې په شپنیو عملیاتو او هوایي بریدونو کې ملکیانو ته مالي او ځاني زیان اوړي، بلکې تر دې وړاندې هم په دغو عملیاتو او بریدونو کې ملکي شتمنۍ زیانمنې او په وار وار عامو خلکو ته د سر درانه زیانونه اوښتي دي.

مسیر ورځپاڼه

مسوول مدیر: اسدالله وحیدي

ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي

لیکوالان: محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد

خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

ګرافیک او ډیزاین: ارمان

چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۶مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۷مه | دویم کال | ۳۰۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

# وزارت خارجه از تلاش پاکستان برای زمینه‌سازی دیدار باطالبان استقبال کرد



وزارت امور خارجه، در واکنش به گفته‌های نخست‌وزیر پاکستان می‌گوید که اگر این کشور طالبان را برای گفت‌وگوها با امریکایان حاضر بسازد، این نخستین اقدام عملی پاکستان در همکاری با روند صلح افغانستان خواهد بود.

سخن‌گوی وزارت امور خارجه از این کار پاکستان استقبال می‌کند و خواهان ادامه همکاری‌های اسلام آباد در روند صلح افغانستان است.

صبغت احمدی می‌افزاید: «ایالات متحده امریکا هم فشارهایش را وارد کرده‌است تا حال حداقل به نتایجی دست پیدا کرده ایم. اما ما امیدوار هستیم تا این نتایج کلان‌تر شود.»

بربنیاد گزارش‌ها، دیروز مشاوران امنیت ملی افغانستان، پاکستان، عربستان سعودی و امارات متحده عرب نیز در شهر ابوظبی در بارۀ صلح گفت‌وگوهایی داشتند.

در همین حال، شورای عالی صلح، می‌گوید که در نشست امروز با امریکایان اعضای شورای کویته نه، بل نماینده‌گان طالبان در دفتر قطر، دیدار خواهند کرد.

اسدالله زائری، معاون سخن‌گوی شورای عالی صلح در این باره گفت: «در این گفت‌وگوها که میان امریکا و طالبان انجام می‌شود، نماینده‌گان طالبان از قطر این گفت‌وگوها را مدیریت خواهد کرد».

اما، برخی از فعالان سیاسی از برگزاری این نشست چندان خوشبین به نظر نمی‌رسند.

نظرمحمد مطمئن، فعال سیاسی در این باره می‌گوید: «گفت‌وگوهای طالبان با خلیلزاد در قطر باید انجام شود و اگر در کدام کشور دیگری به شمول پاکستان انجام شود، من فکر می‌کنم که نتایج مثبتی در پی نخواهد داشت، چرا که روند صلح را بیشتر پیچیده خواهد ساخت».

پیش از این، حکومت‌های افغانستان و ایالات متحده امریکا بارها از پاکستان خواسته‌اند که طالبان را بر میز گفت‌وگوها بکشاند، اما دیده شود که ترکیب اعضای شرکت کننده طالبان در نشست امروز در پاکستان برای حکومت افغانستان و ایالات متحده امریکا پذیرفتنی خواهد بود یا نه.

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۱۸ | ۱۸ | ۱٤ | ۲۰ |
| ٤- | ۲ | ۱- | ۲ | ٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۳ | لمر ختل ۰٦:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۱۷ | مازیګر ۰٤:۰٦ | ماښام ۰۵:٤۲ | ماخوستن ۰٦:۵۷

## نړۍ




دوامداره کېښون!
مشارکت دوامدار!



د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي ادارې او برښنا شرکت په مرسته لمریزې برښنا ته د غزني، زابل او کندهار ولایتونو د اسېدونکو د لاسرسي لپاره هڅې روانې دي. د ۱۱۵ میلیونه ډالرو په ارزښت دغه پروژه چې د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پراختیایي ادارې له لورې تمویلیږي، له افغان دولت او هغه پانګونو چې یوه سوکاله او باثباته راتلونکې چمتو کوي، څخه د نړیوالې ټولنې د ملاتړ ژمنه په ډاګه کوي.

تلاش ها برای دسترسی باشندگان ولایت های غزنی، زابل و کندهار به انرژی آفتابی و برق با همکاری اداره توسعه بین المللی ایالات متحده امریکا و د افغانستان برشنا شرکت، ادامه دارد. این پروژه ۱۱۵ میلیون دالری که از سوی اداره توسعه بین المللی ایالات متحده امریکا تمویل می شود، نشان دهنده تعهد جامعه بین المللی در حمایت از دولت افغانستان و سرمایه گذاری ها برای ایجاد یک آینده مرفه و پایدار می باشد.

